بسم الله الرحمن الرحيم

<u>**خبر او تبصره**</u>

# امریکا او روسیه په اسلام ضد جګړه کې د یو او بل تر څنګ ولاړ دي؛

# که څه هم امریکا تش په خوله په کریمیا کې د حزب التحریر د غړو بندي کول ناقانونه وبلل



**خبر:**

په اوکراین کې د امریکا سفارت د نومبر په ۱۳ پر روسیه غږ وکړ، چې زر تر زره هغه شپږ کسان خوشي کړي، چې په دې وروستیو کې د نړیوال اسلامي سیاسي حزب (حزب التحریر) د غړیتوب په جرم په کریمیا کې نیول شوي او په اوږده بند محکوم شوي دي. د امریکا سفارت په ټویټ کې ویلي وو: «موږ د سیاسي بیدارۍ شپږو کریمیایي تاتاریانو ته د اوږده بند سزا ورکول په کلکه غندو. موږ په روسیه غږ کوو چې دغه شپږ کسان او همدارنګه نور ټول اوکرایني سیاسي بندیان دې زرترزره خوشي کړي.» دا څرګندونې وروسته له هغه وشوې، چې د نومبر په ۱۲مه د روسټوف ان ډن ښار په جنوبي ولسوالۍ کې نظامي محکمې د حزب التحیر شپږو کریمیایي غړو ته له ۷-۱۹ کلونو پورې د اوږده بند سزا ورکړه. د روسیي رژیم په ۲۰۰۳م کال کې دغه حزب بې بنسټه «تروریستي سازمان»

بللی و؛ که څه هم دغه حزب په ښه توګه پېژني، چې يو سوله غوښتونکی او له تاوتريخوالي خالي حزب دی، حتا له تاسيس څخه تر اوسه پورې يې د تاوتريخوالي په هېڅ عمل کې برخه نه ده اخيستې.

سربېره پر دې يې د ملګرو ملتونو نړيوالې محکمې ته په دې اړه شکايت وکړ، چې په کريميا کې د حزب التحرير د غړو د نيولو قضيې ناقانونه دي او روسي ادارې په دې ډول د کريميا خلک ځوروي او شکنجه کوي. په داسې حال کې چې په اکراين کې پر حزب التحرير بنديز نشته.

په کريميا کې د اکراين د ولسمشر استازې تاميلا تاشېوا وويل: «له شک پرته موږ وايو چې دغه شکنجې د ترهګرو پر وړاندې نه دي، بلکې نژادي او سيمه ييزه بڼه لري او دا به د بشريت پر وړاندې جرم وګڼل شي.» همدارنګه حقوقي ډلو هم د سياسي بيدارۍ د قضيو محکومول وغندل او دغه کار يې د کريميا د تاتاريانو –چې مسلمانان دي- پر وړاندې د روسيې د ظلم د لړۍ يوه برخه وبلله. روسيه په ځانګړي ډول هغه مسلمانان په نښه کوي، چې په سيمه‌ييزه او نړيواله کچه د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د روسيې له ظالمانه سياستونو پرده پورته کوي؛ چې ښه بېلګه يې سوريه ده. د بښنې نړيوال سازمان هم وويل چې د دغو شپږو کسانو محکومول بې اساسه دي او دغه محکمه يې هم بې بنسټه وبلله.

**تبصره:**

روسيه له اسلام او مسلمانانو سره په ښکاره کرکه لري او دوی تل د اسلامي امت او د دوی د دين دښمنان وو. د عثماني خلافت پر ضد له دربېدو را نيولې بيا په سوريه کې د قاتل بشار الاسد د ظالم رژيم په ملاتړ د بې ګناه مسلمانانو تر وژنو پورې؛ د اسلامي ثقافت پر کتابونو له بنديز را نيولې بيا په ښوونځيو او انسټېټيوټونو کې د مسلمانو پېغلو پر حجاب تر بنديز پورې. د مسلمانانو پر وړاندې د دوی دغه ظلمونه او بندي کول د ستالين د کميونيستي ميراث ادامه ده، چې د کريميا تاتار اوسېدونکي يې له سياسي او ديني اړخه سخت سرکوب کړل. په حقيقت کې په کريميا او روسيه کې د حزب التحرير د غړو بندي کول د اسلام پر وړاندې د رژيم د جنګ بله وسيله ده، چې په دې سره د اسلام د بېرته راتلو د مخنيوي هڅه کوي. دوی نه پرېږدي چې خلک له دين سره يوځای شي او مسلمانان ترور کوي، ترڅو هغوی خپله اسلامي عقيده، سياسي ليد او سياسي کار پرېږدي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿وَلاَ يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىَ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُواْ﴾

[البقره: ۲۱۷]

*ژباړه: هغوی له تاسو سره تر دې پورې جنګېږي، ترڅو له خپل دين څخه مو واړوي.*

اصلي اجنډا سونګاتوف روسلان ډېره ښه بيان کړې وه. نوموړی د حزب التحرير غړی و او د روسيې رژيم په مارچ مياشت کې پر ۲۲ کاله بند محکوم کړ، چې يوازنۍ ګناه يې د اسلامي دعوت لېږدول وو. هغه په خپله محکمه کې وويل: «له دغې محکمې څخه ثابتېږي، چې دوی نه موږ محکوموي او نه حزب التحرير، بلکې الهي دين (اسلام) محکوموي.»

پر دې سربېره د روسيې پر وړاندې د امريکا دغه سياسي لوبه چې د کريميا په مسله کې د اکراين ملاتړ کوي، هغه حقيقت نه شي پټولی چې له روسيې سره يو ځای د اسلام د بيا راتګ پر وړاندې جګړه کوي. دا ښکاره ده، چې له «ترهګرۍ» سره جګړه په حقيت کې له اسلام سره جګړه ده؛ ښه بېلګه يې سوريه ده، چې د هغو ډلو پر ضد وجنګېدل چې د اسلامي نظام غوښتونکي وو. د دې ترڅنګ د اسلامي خاورو پر چارواکو د ټرمپ غږ، چې له خپلو هېوادونو څخه مو اسلامي سخت دريځي (سياسي اسلام) پاک کړئ او هم په مرکزي اسيا او عربي نړۍ کې له استبدادي نظامونو څخه د دوی ملاتړ کول. همداراز په اندونيزيا، پاکستان او بنګلدېش کې پرهېزګاره مسلمانان ځوروي او نا حقه يې پر حزب التحرير بنديز لګولی دی. بېځايه او دروغ تورونه پرې پورې کوي؛ غړي يې بندي کوي، ځوروي او حتا وژني يې.

که امريکا په خپله خبره کې رښتينې وي، چې په کريميا کې زموږ د ورونو پر وړاندې قضيه سياسي وه او موږ له تاوتريخوالي څخه کار نه اخلو او غړي مو يوازې اسلام ته د دعوت په تور بنديان دي، نو زموږ غړي ولې د دوی په ملګرو هېوادونو – چې پورته ياد شول- کې بندي کېږي!؟

موږ هغو ټولو دولتونو ته چې د اسلامي خلافت دعوتګر بندي کوي او ظلم پرې کوي وايو، چې د حق خبره، د ظلم پروړاندې درېدل او د نړۍ د مالک (الله سبحانه وتعالی) د نظام لپاره نارې وهل جنايت او جرم نه دی! موږ درته وايو، چې دغه ټولې وېرونکې لارې مو بې معنا دي، چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له تګلارې سره سم اسلامي دولت (خلافت) د تاسيس پر وړاندې يې کاروئ. موږ ته يوازې د الله سبحانه وتعالی اطاعت مهم دی، نه د بل چا. موږ يوازې د هغه سبحانه وتعالی رضا او جنت غواړو؛ له هغه سبحانه وتعالی پرته له هېچا څخه نه وېرېږو او د هغه سبحانه وتعالی تر حاکميت لاندې ژوند غواړو!

موږ له خپل رب سره ټينګه ژمنه کړې، چې موږ ستا با ايمانه بندګان او د اسلام ساتونکي يو او په خپل ټول توان سره په ځکه کې د الهي نظام د واکمنېدو هڅه کوو. په دغې لاره کې د هېڅ خنډ، سختۍ، ګواښ او محاکمې پروا نه لرو! په واقعيت کې زموږ پر ورونو ستاسو شکنجې زموږ عزم لاپياوړی کوي، ترڅو خپلې موخې ته په ښه

توګه ورسېږو! موږ هغو ټولو ظالمو دولتونو ته وایو، چې د اسلامي ډلو پر وړاندې ستاسو جګړې او د اسلام، خلافت او دعوتګرو پر وړاندې ستاسو دروغ او مبارزه به هېڅکله بریالی نه شي. هغه دولت به ډېر ژر تاسیس شي، چې تاسو ورڅخه وېره لرئ انشاالله. په واقعیت کې د خلافت بیا راتګ د الله سبحانه وتعالی ژمنه ده او الله سبحانه وتعالی په خپله ژمنه کې هېڅکله هم نه ناکامېږي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته

## لیکواله: داکتر نسرین نواز

## د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر د ښځو د برخې مشره